# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |



ناظم حکمت
ژباړه: فرهاد ویاړ


## د وینې او خولې په منځ کې

د وینې او خولې په منځ کې
کارګران آواز وایي
خو،
ودانیز کار لکه آواز ویل
آسانه نه دی
دا کار یو څه سخت دی!
د کارګرانو زړه
لکه پسرلني ځمکې په شان د مرغیو له شورماشوره ډک دی
خو، د ودانۍ ځمکه، د پسرلي د موسم ځمکه نه ده
د ودانۍ ځمکه:
له دوړی او خاورې ډکه ده
له ختې او واورې ډکه ده.
په دې ځمکه کې، پنبه خوییږي
او لاس په وینو ډک دی
په دې ځمکه کې
تود او خوړ چای
او د مالوچو په شان نرمه ډوډۍ
نشته
نه یاران وفاداره دي
او نه هم ښوک قهرمان
ودانیز کار لکه آواز ویل

آسانه نه دی

دا کار یو څه سخت دی!

سخت دی، خو

ودانۍ لوړېږي

لوړېږي

لوړېږي

په کښته پوړونو کې

د ګلونو ګلدانۍ د پنجرو شاته ږدي

او لوموړنیو بالکنونو ته

مرغۍ له ځان سره

لمر وروړي

او ته به يې د اوسپنې په هر سيخ کې

او ته به يې په هرې خښتې کې

د زړه د ضربان آهنګ واورې

ودانۍ لوړېږي

لوړېږي

د وينې او خولې په منځ کې.